د قمر راهي په شاعرۍ کښې د اولس ترجماني

شیر زمان سیماب،نصرا للّٰه جان،دانش بیټني

Abstract

Qamar Rahi is considered to he one of the greatest and repute Pashto poet of modern Pashto Literature. He has contributed a lot to Pashto literature in prose as well as in poetry. He has composed ghazal and Nazam a like as well as prose. In addition to ghazal, he also translated modern poetry of other languages in to Pashto. Which show his strength and ability in the art of translation.

Becides rhymed verse he has composed free verse and blank verse too. His poetry delivers a message of love and fraternity. He was against class discriminations used to throw on this very matte in his poetry. He has represented the common masses and tried to give a modern touch to his poetry.

In this article he has been evaluated in term of his representation of the common masses.

د مردان خاوره د پښتونخوا هغه سیمه ده چې پښتانهٔ پرې په ځائے ویاړ کولے شي ـ د ماضي په پاڼو کښې دې خاورې د ژوند په هر مېدان کښې د خپل ناز ښاغلي پیاوړي شخصیات زېږولي دي چې د خاورې په نمائندګۍ نړۍ پېژندلي او تاریخ ستائیلي دي ـ دا وخت هم داخاوره په مختلفو شعبو کښې خپل قابل فخر فرزندان لري چې د خپلو بېش بها خدماتو له برکته ستائیلي کېږي ـ

د ژوند د نورو څانګو نه علاوه د ادبیاتو په لړ کښې دې خاورې ډېر لوئے او قداور خلق پیدا کړي دي او د پښتو ادب په حواله داسې نومونه دلته موجود دي چې د ذکر نه بغېر ئې د پښتو ادب تاریخ نیمګړے کېږي ـ په لنډو ورځو کښې ددې سیمې یو لوئے لیکوال ، ادیب ، دانشور چې زمونږ نه په اوږد سفر بېل شو ارواښاد قمر راهي هم ددې سیمې د ادبیاتو یو داسې پیاوړے شخصیت ؤ چې په راه عدم د تلو نه پس ئې د خپل فکر داسې خاپې پرېښودل چې د ادب د لاروؤ دپاره ئې د لارې مشالونه کړل ـ

راهي صېب (۱۹۲٤ء ـــــــ ۲۰۱۳ء) د مردان د ادب بنيادي غړےؤ او کۀ هر څو د هغه په نظر کښې مردان د ,, بادارو،، ؤ خو هغه د مردان په غزل خوانۍ فخر کوؤ ـ

که مردان د ے د بادارو ، د مردان غزل زما د ے

هر کله چې راهي صېب د مردان په غزل فخر وياړ کوؤ ولې دا يو حقيقت د ے چې د هغوي فکر و فن د ټول پښتو ادب دپاره د قدر وړ دي ـ د هغوي د فکر ځيرې او د شعور ځلا د کلهم انسانيت دپاره ارزښت لري که طبعي طور راهي عدم شو خو د نړۍ دپاره ئې د خپلو فکرونو يو جهان پرېښودو ـ

په ادبي دنيا کښې د قمر راهي خدمات لکه د نمر ښکاره دي ـ د ,, قند،، په نوم د هغوي پښتو ادبي مجله د ادبياتو د يو اهم دستاويز حېثيت لري چې پکښې د ژبې او ادب زړۀ پورې خدمت شو ے د ے ـ

د ,, قند،، نه علاوه د اروښاد قمر راهي نثر نګاري او په خصوصي توګه ,, کربښې ،، د پښتو ادب د جديد نثر په لړ کښې د قدر وړ کار د ے او داسې د راهي صېب شاعري هم د پښتو د جديد منظوم ادب اعلىٰ نمونې لري ـ کومه چې د دوئي په شعري مجموعه ,, ځيره ،، ,, ځلا ،، ,,ستوري او پلوشــې ،، او ,, مشــال ،، کښې محفوظ ده ـ

د راهي صېب شاعري په ډېر لوئې دور اړه لري ـ د اجمل خټک ، قلندر مومند ، همېش خليل ، ايـاز داؤدزي ، پرېشان خټک ، محمد نواز طائر او داسې د نورو سترو شاعرانو د دور او عصـر شــاعر ؤ ـ د خپـل چاپېرچل ستونزې ، پيښې ، مشکلات ، قدغنونه او دطبقاتي نظام کشالې ئې محسوس کړې او د خپل فکـر پــه کېنوس ئې د لفظونو په رنګونو د خپل شعر په صورت کښې تصوير کړي دي ـ هغه د خپل دور د هر بادار خلاف د خپل شعور بيرغ هسک نيولے د ے او په جار ئې د خپل اختلاف اظهار کړ ے د ے ـ ولې د دوئي دا اختلاف که هر څو وو ولې نعره بازي نه وه ادبي رنګ مزاحمت ؤ او هم دا دوئي د پښتو مزاحمتي ادب دپاره لوئې خـدمت د ے ـ د کوم سره چې ژبې او ادب ته درنه پنګه تر لاسه شوه ـ

راهي صېب چې د خپل اولس او د نړۍ د ټولو مظلومانو دپاره د حق اواز پورته کړے قلم ئې راخستے دے نودوه خبرې ئې په نظر کښې نيولې دي چې يوه حق خبره ښکاره کول او بله د ادب خدمت کول ـ او زما په فکر دغه ,, ادب د ژوند دپاره ،، نظريه ده کومه چې افاقي ده او د هر دور د مظلومانو او بې وسو دپاره به دغه ليکونه د لارې مشال وي په دې چې دا ليکونه نۀ دچا شخصي نقطۀ نظر په خول کښې بندوي او نۀ د چا د نظريو په چوکاټونو کښې، دا صرف د انسانيت خبرې دي ـ او انسانيت ئې محور او مرکز دے او چرته چې انسانان ژوند کوي د انسانيت تذکرې کېږي د انساني حقوقو ترجماني کېږي نو د راهي د شعر رنګونه به تازه وي ـ

راهي صېب د انسانيت د پيغام د رسولو په موقع يو اديب او دانشور وي اولکه څنګ چې ذکر وشو دهيچا پابند نۀ وي خالص مخلص اديب وي او د اديب په حېث فکر خوروي ، ترجماني ئې غرض وي ـ

ترجمان د خپل اولس يمه حبيب يم
د وخت سترګو کښې ازغے د وخت نقيب يم
دا شعور مې طبقاتي دے بادارانو
د نادارو په پره که يم غريب يم[1]

د بادارۍ خلاف په دې چغه کښې د بې وسو او مظلومو طبقو دپاره د حوصلې ، همت او پرمختګ رنګ هم شامل دے په دې چې غورزېدلې او چقېدلې طبقې يوازې د ظلم او بربريت خلاف اودرول نۀ دي په دې پوهه کول هم دي چې دا محض اتفاق دي چې په تيارو کښې پيدا ايۍ رڼا ستاسو حق دے ـ د وړاندې تګ غږ ورته هم ورکول دي ـ لار ئې هم سمول دي او منزل ئې هم په ګوته کول دي کوم سره چې د طبقو دغه جنګ هله د بې وسو او بې وزلو په ګټه تماميدے شي ـ

که په پښو کښې مې پولۍ وچوي نو خبر دے
د منزل نه لرې نۀ يمه قريب يم
اتفاق دے په تيارو کښې که پيدا يم
د تيارو سره په جنګ زۀ ئې حسيب يم[2]

اروابناد اجمل خټک د قمر راهي د روښان فکرۍ او نازک خيالۍ په لړ کښې ليکي چې :-

,, قمر الزمان قمر راهي د وخت ښۀ نازک خیال غزل ګو ، هنرمند او د روښانه قلم خاوند شاعر ، نقاد، افسانه نویس او مضمون نګار دے ـ د اولسي ادبي جرګې سرګرم رکن وو[3] ،،

د قمر راهي شاعري د خپل اولس د ترجمانۍ پوره پوره حق ادا کوي ـ دجانان او دوران د غمونو امتزاج لري ـ کوم چې د جدید شاعرۍ یو عمومي رنګ دے او د راهي صیب د شاعرۍ په خمیر کښې هم دغه فکرونه اغږلي شوي دي ـ

څۀ غمونه د جانان دي ، څۀ غمونه ددوران دي
د وختونو په قفس کښې ، لا خیالونه بندیوان دي
د دلبر ذکر چې کم کړي ، د حیات ذکر چې سم کړي
دا غزل به د راهي وي ، دا خبرې د مردان دي[4]

او داسې بل ځائې وائي :-

اشنا خبر یم خفه کېږي خو حالات ښۀ نۀدي
زما په زړۀ هم راوریږي خو حالات ښۀ نۀدي
لکه وږمه د پسرلي چرته د لرې راځي
داسې په خوا کښې مې تېرېږي خو حالات ښۀ نۀدي
زما په ذهن استبداد لکه خپسه کښېني
راته په دې کښې هم یادېږي خو حالات ښۀ نۀدي
لکه د ژوند همه تراخۀ زما د حلقه تېر شي
نه منم دې کښې هم خوږېږي خو حالات ښۀ نۀ دي
لکه نفسي نفسي ماحول دے د قیامت منظر دے
بس په خبره که پوهېږي خو حالات ښۀ نۀدي
تن تنها تورو تیارو کښې لکه لیت بلېږي
زما وطنه که رڼېږي خو حالات ښۀ نۀدي[5]

د ,, دلبر ،، او د ,, حیات ،، تذکره د راهي د غزل پېژندګلو ده ولې د طبقاتي نظام په جبر جبر ماحول کښې د راهي غوندې اهل نظر او اهل قلم د خپل داخل په ځائې د خارج د ترجمانۍ په حق ادا کولو مجبور شي ـ په دې چې داسې لیکوال د همه انسانیت غمونه خپل وګڼي او ددغه غمونو غلبه په فکر و فن اغیزمنه شي ـ

مونږ چې وینې ورله ورکړې ، خپل چمن کښې لاروي شو
دا چمن اوس د هغو دے چې د ګلو قاتلان دي
خپل شعور چې ئې کچه وي بې شعوره ورته ښکارم
بې شعوره باشعور دي ، چې د کلي مې خانان دي[6]

په دې لړ کښې ئې د غزل دا شعرونه هم وګورئ ـ

د اولس د زړۂ ملهم دے په زخمونو پټې کېږدي
چې خبرې داولس کړي ترجمان غزل زما دے
چې پسته پسته رڼا کړي لاروي چې پکښې ټک کړي
د تیارو سینه کښې بل دے چراغان غزل زما دے
د وېښ نام په وینو رنګ دے ، هر شهید سره شهید دے
د احساس په اور ستي دے سم انسان غزل زمادے
سنګباري ده زۀ مجبور یم زۀ راهي چې پکښې اوسم
که مردان دے د بادارو د مردان غزل زما دے[7]

او لکه څنګه چې ذکر وشو چې راهي صېب اګرچې په خپل داخل کښې د خپلو احساساتو او جذبو یو بهیر لري ولې د خپل خارج د بې وسو او بې وزلو د ترجمانۍ نه غاړه نۀ شي غړولے ـ

زۀ منم شونډې دې سرې شوې ، ستا د زلفو سپورے ګور شو
لا د ژوند په کشالو کښې بندیوان غزل زما دے[8]

یا دا چې :-

پرېږده چې د ژوند کړې ورې لارې نن سمې کړم
زۀ لا د کاکل د پېچ و خم خبرې نۀ کوم[9]

راهي صېب چې د کاکل د پېچ و خم په ځائې د ژوند د کږو لارو د سمولو هڅې کوي په دې پوهه دے چې د ژوند په دې لار انسان ژوندے پاتې کېږي ـ بقا مومي او د انسانيت معراج ته رسي ـ په دې چې انسان په دې اشرف المخلوقات دے چې دے يو معاشرتي ژوند تېروي او د ژوند تېرولو دپاره څۀ طور طريقې او سليقې لري ، ژوند ژواک لري ، تهذيب او تمدن لري ، نو ظاهره ده چې يو نظام چې شخصي رنګ لري او طبقاتي مسئلې پيدا کوي بايدچې دغه نظام د مېنځه او لوړولې شي او پسته د يوې پرامنه معاشرې قيام وشي او داسې ده هم چې ددغه معاشرې قيام دپاره هلې ځلې وشي عالمګير احساس پيدا شي او دغه منزل که لرې هم وي دغه تيارې کۀ ګورې هم وي خو راهي اخر راهي وي او ټک ئې پر مخ روان وي ـ

دا تــوره ګــوره شــپه ده پــېش خېمــه د ســپين ســحر
تــل تــکګ زمــونږ منــزل تــه وي د شــپو پــه دغــه لار
راتلــونکي دې بــې ويــرې پــرې را ردومــې اوس اشــنا
مــونږ وشــيندل ګلونــه د ازغــو پــه دغــه لار[10]

راتلــونکي چــې را درومــي راهــي لارې بــه بنــې وينــي
ســور اور دې وي راپــورې د لمبــو پــه ســر ډيــوې وي[11]

څــۀ خاپونــه بــه پــرې پرېــږدم راهــي لارې بــه رڼــا شــي
کــۀ مــرۍ کــه تېزنــدۍ وي کــه مــې پښــو کښــې زولنــۍ وي[12]

ددغه منزل د حصول دا شعور که هر څو راهي صېب ته ډېر ګران پرېوځي او په دغه لار کښې پرې سنګباري ولې نه کېده خو ـ

د وطن په ښاريو کښې که سنګسار يم سرخرو يم*
د احساس مهرباني ده د شعور دغه احسان دے[13]

د راهي هسې په ځان سنګباري نه وه سود هغه په دې هم رسېدلے ؤ چې :-

بې ترتيبه غوندې ژوند کښې دا ترتيب چې ئې په لاس دے
اوږے تږے دے بربنډ دے، يو مزدور دے بل دهقان دے[14]

همېش خليل صېب ليکي چې :-

,, د قمر راهي شاعري د يو نوي ژوند احساس دے ـ د ژوند کولو جذبه او حالاتو په يو نوي انداز په لاره کولو ارزو ده ـ د يو نوي نظام تعارف دے ـ د جذباتو يلغار او نقطه نظر د خلوص سره دعملي خواهش ناقراري ده ـ خو ددغه هر څۀ باوجود بيا هم د دوئي نظمونه او غزلې محدود نۀ دي ـ بلکې دغه نه علاوه حُسن هم لري اوعشق هم ـ د وخت موجوده کېفيتونو ترجماني هم ده او مختلفو منظرونو عسکونه هم دي ـ او بيا دا هر څۀ د مقصد له هغه دائرې بهر هم نۀ دي ـ کومه چې د شاعر د منظوماتو بنيادي موضوع ده ـ چې د شاعر شعور پکښې هر وخت متحرک محسوسېږي[15] ،،

اروابښاد قمر راهي صېب په حقيقي معنو کښې دچقېدلې او غورزېدلې طبقو ترجمان شاعر ؤ او دغه ددې اولس ترجماني وه او ددې زېلي قوم د ښېرازۍ ارمان ؤ ـ

عبدالله جان عابد ليکي چې :-

* نثار میں تیرے گلیوں کے اے وطن کہ جہاں
چلی ہے رسم کہ کوئی نہ سر اٹھا کے چلے
فیض احمد فیض

,, شعری اصناف میں انکی مخصوص طرز فکر کے ساتھ احساس کی نزاکت اور ترقی پسندانہ خیالات کی دل کش ترجمانی نمایاں ہوتی ہے۔ زندگی کے ایک مثالی نظریے کی تبلیغ ان کی شاعری کا مرکز و محور ہے۔ حالات کی جبریت میں انسان کی کم مائیگی اور ناقدری کا احساس ان کے لہجے کو ایک حزینہ رنگ دیتا ہے۔ [16] ،،

د جبر او استبداد په تور دور کښې فنون لطيفه هم د قدغنونو سره مخ کېږي او هر جابر او ظالم د فنونو په لار قدغن لګوي په دې چې فنون لطيفه د انساني جذبو د اظهار بهترينه ذريعه وي د کومې سره چې د خپل چاپېرچل نه رازېږېدلي احساسات او پيدا شوي جذبات رادوخاره شي او فن کار ئې د خپل فن په ذريعه د داخل په افکارو کښې لکه د بوډۍ د تال رنګين او حسين کړي او د اولس د ترجمانۍ کار ترې واخلي په دغه اړه شاعري ډېره مؤثره لار ده چې د اولس ترجماني په ښۀ توګه وکړي او هم له دغې وجې په شعري هنر منډۍ د قدغن خپسه کښېنې چې چرته د استبداد خلاف د احتجاج دغه رنګ د بغاوت تصوير نۀ شي ځکه خو قمر راهي د فن دا صورتحال داسې وړاندې کوي۔

لا استبداد مې په مرۍ غلے دے
فن مرور دے هم نغمې خفه دي [17]

د رائې ازادي او داولس د فېصلو په رڼا کښې رائج نظام د اولس ترجمان کېدے شي او ځکه خو حضرت علامه اقبال وئيل چې :-

سلطان جمہور کا آتا ہے زمانہ
جو نقش کہن تم کو نظر آئے مٹا دو [18]

او دې سره دا چې :-

اٹھو میرے دنیا کے غریبوں کو جگا دو
کاخِ امراء کے در و دیوار ہلادو

جس کھیت سے دہقان کو میسر نہ ہو روزی
اُس کھیت کے ہر خوشۂ گندم کو جلا دو [19]

او لکه څنګه چې اقبال دبغاوت په نتیجه کښې د ,, اُس کھیت کے ہر خوشۂ گندم کو جلا دو،، اتها ته رسـي پـه دې چې هغه د اولسي حقوقو علمبردار ؤ نو راهي صېب هم دا وئيل چې :-

چــې تصــرف ئــې دے پــه ګــل هــم د زغــن پــه خوشــبو
اور دې شــي پــورې پــه ګلشــن هــم د ګلشــن پــه خوشــبو[20]

راهي صېب دانساني مينې ډک زړۀ لرلو د هغۀ قول او فکر د انسانيت په ټکي راغونډ ؤ ـ د هغه د هنر په هره ادا کښې دانسانيت پيغام بريښي او دا د هغۀ اعلٰی ظرفي وه چې هغه د واک او اختيار د خاوند کېدو پـه ځـائے ځان انسان جوړول غواړي او زما په خيال انسان جوړېدل د يو ډېر لوئے رياضت په پُلِ صراط تلۀ غواړي ـ

خدايـــه نـــۀ وايـــم مـــا خـــان کـــړې
يـــو ســـړے يـــم مـــا انســـان کـــړې[21]

راهي صېب په ټوله شاعرۍ کښې د اولسي ترجمانۍ پوره پوره حق ادا کړے دے ـ د بشـري ټـولنې چقېـدلې طبقې ئې پـــه نظر کښې نيولې دي او د هغوئي د ستونزو نه ئې پرده پورته کړې ده ـ

د وخت په زېږمو کښې خـوارۀ بيـا د لوګـو سـېورې دي
د ګل په شـونډو زهرخنـد دے د ازغـو سـېورې دي[22]

خدائے خبر چا په وينو رنګ کړو پيژندے چې نۀ شي
مونږ چې غوښتلے وو د خدايه په سوالونو موسم
چرته يو وخت وو تېرېدۀ موسم به هم بدل شۀ
سپيرۀ موسم دے نۀ بدلېږي په کلونو موسم
د اوچو کړسو پاڼو شور دے څۀ ازغي پاتې دي

بويه چې راشي په دې ښار بيا د ګلونو موسم
مونږ د بارودو په لوګو کښې سترګه پټه نۀ کړه
په برندو سترګو چې راګوري د وختونو موسم[23]

د خپلې خاورې سره لېونۍ مينه لري هر څو کۀ دلته غربت او بې روزګارۍ د اولسي ژوند مخې ته د کشالو غرونه ودرولي دي ولې خاوره خاوره وي او ددې سره مينه نۀ کمېدے شي او نۀ ختمېدے شي ـ

خپلـــه خـــاوره ده پـــه خپلـــه خـــاوره مـــړ يـــم
ګنـــې دلتـــه راهـــي کـــار وي نـــۀ روزګـــار وي[24]

او هم دغه وجه ده چې د مينې ، مساوات او انصاف د نمر د پلوشو په اميد ئې د ژوند شپې سبا کړلې ـ پـه دې چې دا خاوره زرخېزه ده مردم خېزه ده او :-

ے ذرا نم ہو تو یہ مٹی بڑی زرخیز ہے ساقی

مـــا وې دلتـــه د انصـــاف نمـــر بـــه طلـــوع شـــي
زۀ تـــر اوســـه لا ژونـــدے پـــه دې امکـــان يـــم[25]

اروښاد قمر راهي صيب که هر څو حالاتو ترلې وو ولې هغه د خپل قلم په اهميت خبر وو ځکـه هغـه قلـم نـه کېښودو او د انساني معاشرې نه ئې د تفاوت ددغه نظام خلاف شعوري مبنود کوؤ ـ

ريښـــتيا خـــو دادي چـــې حـــالاتو ســـکنجه کـــړے يمـــه
قلـم کـه پـڅ هـم دے پـه تـاخ کښـې کېښـودلے نـۀ شـم[26]

ددې اجمالي ذکر په نتيجه کښې د راهي صيب هغه انساني فکر زمونږ مخې ته راځي چې نړيوال رنګ لري ـ او داسې د پښتو دا ستر شاعر مونږ د خپل اولسي او انساني فکر په اړه د عالمي ادبياتو په قطار کښې ودرولے شو ـ

حوالې

1 قمر راهي ، خیره ، کوثر پرنٹنگ پریس مردان ، ۱۹۹۸ء ، ص ۸٤
2 خیره ، مخ ۸٤
3 اجمل خټک ، قیصه زما د ادبي ژوند ، معراج دین پرنټرز لاهور ، ۲۰۰۵ء ، مخ ۲٦٤
4 خیره ، مخ ۸۳
5 همدغه ، مخ ۱۲۲
6 همدغه ، مخ ۸۳
7 همدغه ، مخ ۸۸
8 همدغه ، مخ ۸۸
9 همدغه ، مخ ۷۱
10 همدغه ، مخ ٦۹
11 همدغه ، مخ ۱۰۷
12 همدغه ، مخ ۱۰۹
13 همدغه ، مخ ۷۲
14 همدغه ، مخ ۷۲
15 همېش خلیل ، پښتانۀ لیکوال ، یونیورسټي پبلشرز پېښور ، ۲۰۱۰ء ، دریم ټول ، مخ ٤۲۷
16 عابد عبدالله جان ، پشتو زبان و ادب کی مختصر تاریخ ، یونیورسٹی پبلشرز پشاور ، ۲۰۱۱ء ، مخ ۲۲۱
17 خیره ، مخ ۱۰٤
18 کلیات اقبال اردو ، اقبال اکیڈمی پاکستان لاہور ، نیشنل بک فاؤنڈیشن اسلام آباد ، ۱۹۹۰ء ، مخ ٤۳۷
19 همدغه حواله او مخ
20 خیره ، مخ ۱۱٤
21 همدغه ، مخ ۱٦
22 قمر راهي ، مشال ، یونیورسټي پبلشرز ، قیصه خوانۍ پېښور ، ۲۰۱۳ء ، مخ ٤٥۸
23 همدغه ، مخ ٤٥۹
24 همدغه ، مخ ٤٦۱
25 همدغه ، مخ ٤٦٤
26 همدغه ، مخ ٤٦٥